# تور ځلی

دَ پیغلې سپوږمۍ رڼا کښې کهٔ هر څهٔ رانهٔ شوی وو ، خو تیارې هر منظر کښې ځان پټېدلو ته نهٔ پرېښودلو. دَ خرولې ، بکیانې ، شېوې ، توت اؤ اینځر ؤنې دَ خپلو ؤنو اؤ ځانګو نه پېژندلې شوې. نرۍ لړه دَ سیند دَ اوبو نه ختله اؤ چاپېره داسې خورېدله ، لکه چې په ټول منظر نرے لوګے خورېږی. دَ کیررړو شپیلی ، دَ ځنې مرغیو دَ وزرونو پرارے ، دَ سپو غپار اؤ لرې چرته دَ ګیدړانو اؤ لېوانو بوړنوونکې چغې شپه ویرندکه کړې وه. سیلۍ به لکه دَ زهرژن مار ساه اخستله.

په ټوله شپه دَ وېرې تور سیوری خوارهٔ وو. زما همزاد دَ اشنغر په لوی ټاپُو ولاړ ؤ اؤ چاپېره نندارتون کښې ئې سترګې ښخې کړې وې. دَ نړۍ ؤچې برخې بې شمېره تورو ځلو سره داسې برېښېدلې ، لکه چې په زلمی مخ بې شمېره ننکۍ ختلې وی. دَ هر ځلی خوا کښې دَ غوښې یؤ بُت ولاړ ؤ اؤ دَ بُت په شونډو به دَ موم دَ تار ګینده وه. دَ هر بُت سترګو به دغه وېرېدونکے بوړنوونکے منظر لیدلو اؤ دغه وېره به ئې دَ سترګو نه څڅېدله. غوږونو به دَ دغه مهیبو غږونو زوږ اؤرېدلو ، خو ژبې

دَ خوځښت اؤ اواز دَ سر اوچتولو توان نهٔ درلودهٔ. په ژبه دَ چپتیا وینهٔ اړم وو اؤ دَ غړ پښې دَ وېرې بیاستې تړلې وې.
زما دَ همزاد سترګې په يؤ داسې بُت ښخې شوې ، چې دَ هغهٔ سترګې ويستلې شوې وې اؤ دغه وخت ترې هم وینې توئېدلې. دواړو غوږونو کښې ئې تؤدهٔ سیخونه ټومبلی شوی وو ، ژبه ئې غوڅه شوې وه ، چې وینو ترې دغه وخت هم دارې وهلې. دَ هغهٔ لاسونه څنګلو کښې غوڅ شوی وو اؤ دواړه پښې ئې دَ ځنګنانو نه لاندې شلې کړې شوې وې ، خو بيا هم هغه غلے نهٔ ؤ. زما همزاد موسکے شو اؤ دَ دغه بُت لوړتيا اؤ سپېڅلتيا ته ئې لاس په تندی کېښودلو.....
دغه دَ يؤ باغی روح بُت ؤ.